## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**15ثور_سال 1403**




اخبار مهم
افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه

پکتیا، د مهاجرینو ښارګوټي کې روغتیایي کلینیک جوړیږي ----------------------------------------- 1

نشست مشترک وزارت امور مهاجرین، با کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امورپناهندگان برگزارشد 2

ننګرهار کې له زرو زیاتو کورنیو سره د خوراکي توکو مرسته وشوه ------------------------------ 2

بیش از ۸۰۰ تن مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود ---------------------------------------- 3

غور ولایت کې د بیا مېشتېدنې کمېټې ناسته وشوه------------------------------------------------ 3

۴۰ خانواده، در ولایات سرپل و بامیان مساعدت شد---------------------------------------------- 4

یوه ورځ کې تر ۷۰۰ زیات کډوال بریټانیا ته اوښتي دي ------------------------------------------- 5

»وروستی چانس»، «ناخوندي هېواد»، «ګنګوسې»: دنکرک کې کډوال روندا ته د مهاجرو د استولو په اړه بېلابېل نظرونه لري ------------------------------------------------------------- 7

نظر سنجی در آلمان: «بزرگترین مشکل اتحادیه اروپا پناهندگی است«---------------------------12

قبرس: کمک یک میلیاردی اتحادیه اروپا به لبنان برای جلوگیری از سرازیر شدن پناهجویان ------13

بیش از 800 مهاجر افغان دیگر از پاکستان اخراج شدند ---------------------------------------14

وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان افغانستان اعلام کرد که پاکستان طی روز گذشته بیش از 800 مهاجر افغان را از این کشور اخراج کرده است-----------------------------------------15

تیم پناهندگان در بازی های المپیک پاریس: ۳۶ ورزشکار از ۱۱ کشور -------------------------15

# متن کامل اخبار

## **پکتیا، د مهاجرینو ښارګوټي کې روغتیایي کلینیک جوړېږي**

د وزارت وېب پاڼه



**پکتیا مرکز ګردیز، د رباط کلي د راستنو شوو مهاجرینو ښارګوټي کې د ۳۷۵ زرو امریکایي ډالرو په ارزښت روغتیایي کلینیک جوړېږي، چې د بنسټ ډبره یې نن د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني او یو شمېر نورو مسوولینو له لورې د یو لړ مراسمو په ترڅ کې کېښودل شوه**

**په یادو مراسمو کې د مهاجرینو چارو سرپرست وویل، په دغه روغتیایي مرکز کې به د راستنو شوو مهاجرینو ترڅنګ د سیمې خلکو ته هم خدمات وړاندې کېږي**

**ښاغلي حقاني له ولسونو وغوښتل، چې د عام المنفعه پروژو ملاتړ او ساتنه وکړي**

**نوموړي په ټولو بهرمیشتو افغانانو غږ وکړ، چې د هېواد د بیا رغونې او سوکالۍ لپاره دې هېواد ته راستانه شي**

**د سیمې خلکو د اسلامي امارت او په ځانګړي ډول د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر د هڅو ستاینه وکړه او ویې ویل د کلنیک د نشتون له امله دوی له ډېرو ستونزو سره مخ و، چې اوس به یې دغه ستونزې پای ومومي**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

## نشست مشترک وزارت امور مهاجرین، با کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امورپناهندگان برگزارشد

د وزارت وېب پاڼه



نشست مشترک وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان و کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان با حضور معاون آن کمیشنری و هیات همراه با وی، بر ریاست الحاج مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت برگزارشد.

در این نشست مشترک در رابطه به تشریح پلان سال روان میلادی، هماهنگی و همکاری میان وزارت و آن کمیشنری گفتگو صورت گرفت.

معین مسلکی وزارت گفت: با هماهنگی با یک دیگر در حل مشکلات و رسیده گی به آن یکجا کار خواهیم نمود.

آقای راشد بر افزایش کمک های آن کمیشنری تاکید بیشتر نمود.

خانم والری سوبو دووا، معاون امور حقوق آن کمیشنری از همکاری و هماهنگی وزارت با کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان ستایش نموده بر حمایت آن سازمان در عرصه های مختلف در آینده در تشریک مساعی با شرکای خویش اطمینان داد.

## ننگرهار کې له زرو زیاتو کورنیو سره د خوراکي توکو مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت



ننگرهار ولایت کې پرون د غوبي میاشتې ۱۲مه پر یو زر ۶۱۷ راستنو شویو کورنیو د خوراکي توکو مرسته وویشل شوه.

دغه کورنۍ مخکې د مهاجرینو ریاست له خوا په بټي کوټ، مومند دره، کوټ، اچین، سپین غر، لعلپورې او غني خېلو ولسوالیو کې پېژندل شوې وې.

د خوړو نړیوال سازمان له لوري په دې مرسته کې د ۵ ډوله خوراکي توکو مرسته شامله وه، چې د مهاجرینو ریاست تر څارنې لاندې وویشل شوه.

## بیش از ۸۰۰ تن مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود

ویب سایت وزارت

۸۳۸ تن مهاجر افغان به تاریخ ۱۲ ثور از خط فرضی تورخم و سپین بولدک به کشور برگشت نموده اند.

به اساس معلومات آمریت سرحدی سپین بولدک ولایت قندهار، ۹۶ خانواده شامل ۵۰۵ تن از مرز یاد شده برگشت پس از ثبت در آن آمریت جهت کمک به دفاتر سازمان بین المللی مهاجرت، سازمان جهانی خوراک و کمیشنری عالی ملل متحد در امور پناهنده گان معرفی و برای هر خانواده مبلغ ۱۰ هزار افغانی از طرف امارت اسلامی نیز پرداخت شده است .

و به اساس معلومات آمریت سرحدی تورخم ولایت ننگرهار، ۶۳ خانواده که شامل ۳۳۲ تن بودند، طور جبری از پاکستان برگشت نمودند و بعد از ثبت در اداره امور مهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی ملل متحد و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند

## غور ولایت کې د بیا مېشتېدنې کمېټې ناسته وشوه

د وزارت ویب سایت



له ایران او پاکستان څخه د بیا راستنېدنې او میشتېدنې‌کمیټې ناسته پرون د غويي میاشتې ۱۲مه د غور ولایت د مرستیال او سرپرست مولوي روح الله طريقت په مشرۍ جوړه شوه.

دغه ناسته د یاد ولایت د سیمه ییزو مسولینو په ګډون ترسره شوه او د اسلامي امارت د رهبرۍ له حکم سره سم په جبري راستنو شویو مهاجرینو د نغدي مرستې د وېش د څرنګوالي په اړه بحث وشو او لازم تصمیمونه ونیول شول.

## ۴۰ خانواده، در ولایات سرپل و بامیان مساعدت شد

ویب سایت وزارت




**برای ۴۰ خانواده در ولایات سرپل بامیان، کمک نقدی به تاریخ ۱۲ ثور توزیع گردید.**

**خانواده های متذکره که شامل برگشت کننده گان اجباری از کشور های همسایه بودند که از جانب ادارات امور مهاجرین آن ولایات شناسایی که پس از آن مبلغ ۲ هزار افغانی از جانب امارت اسلامی با نظارت کمیته های ولایتی و آمریت های مهاجرین برای شان توزیع شد.**

## یوه ورځ کې تر ۷۰۰ زیات کډوال بریتانیا ته اوښتي دي

مهاجرنیوز




**د برېتانیا د کورنیو چارو وزارت د رسمي شمېرو له مخې، تر ۷۰۰ ډېرو کډوالو د چهارشنبې په ورځ د انګلیس کانال له لارې ځانونه برېتانوي سواحلو ته رسولي دي. دا په داسې حال کې ده چې لندن وایي رونډا ته د کډوالو د استولو په موخه یې د مهاجرو د نیولو عملیات پیل کړي دي .**

**برېتانیا ته د اوښتونکو کډوالو شمېر یو ځل بیا ریکارډ کچې ته رسېدلی دی. د برېتانیا د کورنیو چارو وزارت د شمېرو له مخې، د تېرې چهارشنبې په ورځ، د می په لومړۍ نېټه، ۷۱۱ کډوال چې په ۱۴ کښتیو کې سپاره ول د انګلیس کانال له لارې برېتانوي سواحلو ته اوښتي دي. د مخکني ریکارډ له مخې، ۵۳۴ پناه غوښتونکي د اپریل په ۱۴مه د اوبو له لارې برېتانیا ته رسېدلي وو.**

**دا په داسې حال کې ده چې برېتانوي چارواکو رونډا ته د پناه غوښتونکو د استولو قانون په چوکاټ کې د دغه هېواد په بېلابېلو سیمو کې د مهاجرو د نیولو لړۍ پیل کړې ده. د برېتانیا حکومت د می په لومړۍ نېټه د یوې اعلامیې په خپرولو سره وویل چې په کښتیو کې دغه هېواد ته د کډوالو د اوښتو د مخنیوي پلان «مهم پړاو» پیل شوی دی.**

**د روان کال په لومړیو څلورو میاشتو کې تر ۸۰۰ زره زیات کډوال چې ډېری یې د افغانستان، ایران او ترکیې وګړي دي د انګلیس کانال له لارې برېتانیا ته په رسېدو بریالي شوي دي، حال دا چې د تېر کال په همدې موده کې څه باندې ۶۰۰۰ کډوالو د اوبو له لارې ځانونه برېتانیا ته رسولي وو.**

**دا هم ولولئ**
**»وروستی چانس»، «ناخوندي هېواد»، «کنګوسي»: دنکرک کې کډوال رونډا ته د مهاجرو د استولو په اړه بېلابېل نظرونه لري**



Website: *https://morr.gov.af*

Twitter: *https://twitter.com/MoRRAfg*

Facebook*: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

**ژغورل شوي کډوال**

**بل لور ته فرانسوي چاروااکو د چهارشنبې په ورځ وویل چې د ښځو او ماشومان په ګډون یې د دییپ له ساحلي اوبو څخه یې ۶۶ کډوال ژغورلي دي. د مانش او شمالي سمندر قومندانۍ د خبرپاڼې له مخې، دغه کډوال د فرانسوي ژغورونکو د یوې ډلې له خوا دییپ بندر ته تر انتقال وروسته سرحدي پولیسو ته وسپارل شول او ورپسې بیا په یو جمنایم کې ځای پر ځای شول .چارواکو همداراز د دریو شکمنو قاچاق وړونکو د نیولو خبر هم ورکړی دی.**

**دا وروسته له هغه چې د اپریل په ۳۱مه د ګري نې د ژغورنې او نظارت سیمه ایز عملیاتي مرکز د کښتیو له خوا د پا دو کالي په اوبو کې د ماشومانو په ګډون اووه کسان وژغورل شول. دغه کسان له نورو مهاجرو سره په دوو بېړیو کې سپاره ول. د بېړۍ پاتو سپرلیو د چارواکو مرسته ونه منله او د برېتانیا پر لور یې خپل سفر ته ادامه ورکړه. همدارنګه د اپریل په ۲۷مه په دریو کښتیو کې سپاره ۹۹ کډوال د بولونی سور مېر په اوبو کې وژغورل شول. یوه شپه مخکې بیا ۵۴ تنه نور د هاردېلوت ساحل په اوبو کې ژغورل شوي وو.**

**دا هم ولولئ**
**انګلیس کانال: «موږ څوک دی ته مجبورولی نه شو چې د فرانسوي ځواکونو مرسته ومنی»**

**د یادولو ده چې د اپریل د میاشتې په ۲۲مه د انګلیس کانال د ویمرو په ساحلي اوبو کې پنځو کډوالو خپل ژوند له لاسه ورکړ .د دې قضیې په تړاو څلور کسان نیول شوي او پر دوو تنو یې په رسمي توګه تورونه لګول شوي دي. د رسمي شمېرو له مخې، په روان کال کې د د فرانسې او برېتانیا ترمنځ اوبو کې د مړو شویو کډوالو شمې لږترلږه ۱۵ تنو ته رسېږي.**

## » وروستی چانس»، «ناخوندي هېواد»، «ګنګوسي»: دنکرک کې کډوال روندا ته د مهاجرو د استولو په اړه بېلابېل نظرونه لري

مهاجرنیوز



**د فرانسې د شمالي ښار دنکرک په لون پلاژ پنډغالي کې مېشت کډوال له برېتانیا څخه روندا ته د مهاجرو د استولو قانون په اړه اندېښمن دي. که څه هم ځینې کسان په دې آند دي چې دوی د بېلابېلو دلایلو له امله تر دغه پلان لاندې نه راځي، خو تقریباً ټول هغه مهاجر چې کډوال نیوز ورسره مرکه کړې وایي خپله پرېکړه نه بدلوي. له لون پلاژ کمپ څخه راپور .**

**نایب له یو شمېر نورو کډوالو سره پر څوکۍ ناست دی او خپل تلیفون چارجوي. نن (سه شنبه د اپریل ۳۰مه) د فرانسې شمالي ښار دنکرک کې هوا یخه او وریځه ده. شپاړلس کلن نایب وایي: «کله چې له افغانستانه ووتلم، پرېکړه مې وکړه چې باید ځان برېتانیا ته ورسوم. له همدې وجې اوس دلته یم«.**

**نایب وایي: «روندا ته د کډوالو د استولو قانون څخه خبر یم. دا ځل دغه قانون نهایي شوی او حکومت په پام کې لري چې روندا ته د کډوالو د اخراج لړۍ پیل کړي. له دې موضوع څخه هم خبر یم چې ښایي د برېتانوي پوځ پخواني افغان همکاران هم له دغه هېواد څخه څخه وشړل شي. خو فکر نه کوم چې چارواکي به کم عمره کډوال هم دغه افریقایي هېواد ته واستوي«.**

**دا هم ولولئ**

**<u>د بریتانیا ولسي جرګې روندا ته د خیل هیواد د پخوانیو افغان کارکوونکو د نه استولو پلان رد کړ</u>کډواله کورنۍ د فرانسې په دنکرک ښار کې. انځور: دانا البوز، کډوال نیوز**

**»ګنګوسې«**

**خو په لون پلاژ کمپ کې یو شمېر نور افغانان هم شته چې د دغه قانون په اړه بل نظر لري. پنځه لس کلن واحد احمدزی یو له دغو افغانانو دی. دغه کډوال چې د بغلان ولایت اصلي اوسېدونکی دی نهه میاشتې مخکې له افغانستانه وتلی او د نایب په څېر یې د ترکیې او بالکان هېوادونو له لارې ځان فرانسې ته رسولی دی. واحد وایي چې له نورو څخه یې د روندا د قانون او د حکومت د تصامیمو په اړه زیات شیان اورېدلي دي، خو فکر کوي چې دا یوازې «اوازې او ګنګوس» دي .هغه زیاتوي: «یو شمېر ملګري مې پرون برېتانیا ته ورسېدل. موږ ته یې د تلیفون له لارې وویل چې دا هسې تشه خبره ده او حکومت څوک روندا ته نه لېږي«.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

واحد چې له یوې میاشتې راهیسې د فرانسې په دنکرک ښار کې اوسېږي وايي ښايي یو شمېر کډوال اندېښمن وي، خو هغه او ملګري يې اوازو او ګنګوسو ته باور نه کوي.

په لون پلاژ کې یو شمېر کډوال هم دي چې وايي نه پوهېږي روندا قانون څه ته وايي. د دایکندي اوسېدونکی ۲۸ کلن علي یو له دغو مهاجرو دی. هغه چې پنځه کاله مخکې له افغانستانه وتلی او له ۶ میاشتو راهیسې په لون پلاژ کمپ کې ژوند کوي وايي، د پیسو د نه لرلو له امله يې تر اوسه د سمندر له لارې برېتانیا ته د اوښتو هڅه نه ده کړې. علي زیاتوي چې برېتانیا ته يې تګ «وروستی چانس» دی. هغه زیاتوي: «ما درې کاله سویس کې تېر کړل. هلته مې غوښتنه رد شوه. په فرانسه کې دوبلیني یم او دلته د پناه غوښتنه نه شم کولی.» علي برېتانیا ته د اوښتو لپاره پیسو ته اړتیا لري، نو ځکه د سړک پر غاړه اوبه او جوس خرڅوي.

دا هم ولولئ
<u>سازمانونو او نړیوالو ادارو روندا ته د کډوالو د استولو پر قانون نیوکې کړې</u>


ځینې کډوال لون پلاژ کې اوبه او جوس خرڅوي. انځور: دانا البوز، کډوال نیوز

»نه غواړم چې ژوند له صفر څخه پیل کړم«

د برېتانیا لومړی وزیر ریشي سونک په خپل قانون کې استثنا نه مني. هغه په وار وار ویلي دي چې موخه يې د کښتیو مخنیوی او د «ناقانونه کډوالۍ» درول دي. د نوموړي د حکومت له خوا وړاندیز شوی متن کې چې اوس په تقنیني سند بدل شوی دی نه ښځې، نه ماشومان او نه د کوم ځانګړي هېواد وګړي د استثنا په توګه نه دي پېژندل شوي.

ځلور ویښت کلن جېمز د جنوبي سوډان څخه راغلی دی. دغه کډوال وايي چې په ښوونځي کې يې انګليسي ژبه زده کړې ده. هغه رونډا ته د کډوالو د استولو له پلان څخه خبر دی او وايي چې دغه قانون په کمپ کې مېشت ټول سوډانيان انديښمن کړي دي. خو په وينا يې هېڅوک تصميم نه لري چې فرانسه کې پاتې شي. دغه ځوان کډوال زياتوي: «زه نه شم کولی چې ژوند له صفر څخه پيل کړم. غواړم چې برېتانيا ته ولاړ شم او هلته خپلې زدکړې پای ته ورسوم «.جېمز رونډا خوندي هېواد نه ګڼي او وايي: «د جنوبي سوډان او رونډا ترمنځ پنځه ساعته فاصله ده. که رونډا خوندي وای، زه هلته تللی وای. هلته زما په څېر خلکو ته ژوند ممکن نه دی«.

اته لس کلن راشو له جېمز سره موافق دی. دغه کډوال وايي چې يوازنۍ هېله يې درس ويل دي ځکه په جنوبي سوډان کې د درس ويلو زمينه ورته برابره نه وه. هغه زياتوي چې په ۲۰۲۲ کې يې د خپل هېواد پرېښودو ته اړ شوی او تر ۲۰ ځله يې برېتانيا ته د اوښتو هڅه کړې، خو هر ځل يې هڅه ناکامه شوې. راشو په فرانسه کې د پناه غوښتنه کړې ده، خو دوبلينې شوی دی. هغه وايي: «اروپا ته راغلم چې ژوند مې بدل شي، خو اوس دوی غواړي چې ټول کډوال رونډا ته واستوي«.

دا هم ولولئ

<u>برېتانيا ته د کډوالو مرګونی سفر؛ يو افغان وايي له څو ځلو هڅو سربېره بيا هم د سفر هڅه کوم</u>



د کډوالو يوه ډله د رېل پټلۍ اوږدو کې. انځور: دانا البوز، کډوال نيوز

تر اووه زره زيات کډوال برېتانيا ته اوښتي

که څه هم تر دې دمه رونډا ته د کډوالو د استولو قانون له فرانسې څخه برېتانيا ته د مهاجرو پر سفرونو واضحه اغېزه نه ده کړې، خو دغه قانون د زياتو مهاجرو او سازمانونو انديښنې راپارولې دي.

ګراند سنت کې د يوتوپيا ۵۶ سازمان همغږی کوونکی فابين توشار وايي: «[د ياد قانون سربېره] زيات شمېر کډوال لا هم برېتانيا ته د اوښتو هڅه کوي او [د امنيتي تدابيرو له امله] خپل ځانونه په خطر کې اچوي. دمګړی له سواحلو سفر کول سخت شوي،

**کښتۍ په کافي اندازه هوا نه لري ترڅو په چټکۍ سره له سواحلو څخه لرې شي او له پولیسو وتښتي. همدارنګه په کښتیو کې د سپرو کډوالو شمېر ډېر شوی، نو ځکه زیات شمېر مهاجر اوبو ته لوېږي«.**

**د برېتانیا د کورنیو چارو وزارت رسمي شمېرې ښیي چې د روان کال له پیل راهیسې تر ۷۲۰۰ کډوال په کښتیو کې برېتانوي سواحلو ته په رسېدو بریالي شوي دي. سږ کال تر دې دمه د ماشومانو په ګډون لږترلږه ۱۵ مهاجرو هم پر دغه لار خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.**



آ

**کانال هغه سېند دی چې دمګړی ډېری کښتۍ ترې د برېتانیا پر لور سفر پیلوي. انځور: دانا البوز، کډوال نیوز**

**نایب د سمندري سفرونو د ګواښونو څخه خبر دی، خو وایي چې زیاتې پیسې یې مصرف کړې او بلغاریا کې دوه اونۍ پیاده مزل کړی دی، اوس چې د برېتانیا په څو قدمۍ کې دی په فرانسه کې نه پاتې کېږي. هغه وایي: «روندا ته د شړل کېدو په صورت کې به د کډوالو له مرکز څخه تېښته کوم او یا به ځانوژنه وکړم. خو نه افغانستان او نه روندا ته نه ځم«.**

**د یادولو ده چې برېتانوي رسنیو د سه شنبې په ورځ راپور ورکړ چې د لومړي ځل لپاره یو پناه غوښتونکی پخپله خوښه روندا ته واستول شو. د برېتانیا حکومت د یو سند له مخې چې د دوشنبې په ورځ خپور شو، تاکل شوې ده چې د کډوالو د اخراج په لومړي پړاو کې ۵۷۰۰ مهاجر په راتلونکو څو اونیو کې دغه افریقایي هېواد ته ولېږل شي. تر دې دمخه رسنیو خبر ورکړی و چې حکومت د یادو پناه غوښتونکو د نیولو عملیات پیل کړي دي او بانکي حسابونه یې تړلي دي.**

**دا هم ولولئ**
<u>**بریتانیا په لومړۍ مرحله کې نیږدې شپږ زره پناه غوښتونکي روندا ته شړي**</u>

## نظر سنجی در آلمان: «بزرگترین مشکل اتحادیه اروپا پناهندگی است «

مهاجرنیوز



**براساس یک نظرسنجی که در آستانه انتخابات پارلمانی اروپا در آلمان برگزار شد، حدود ۴۱ درصد از مردم پناهندگی و ادغام را مهمترین «مشکل سیاسی» در اتحادیه اروپا می دانند .**

**با توجه به معاهده هایی که اتحادیه اروپا با کشورهایی مانند مصر، تونس و لبنان تصویب کرده است، نیمی از شرکت کنندگان (۵۱ درصد) با سیاست کمک مالی به کشورهایی که جلوی ادامه سفر پناهجویان به اتحادیه اروپا را می گیرند، موافق است. ۳۸ درصد از افراد واجد شرایط رای دهی در آلمان انعقاد چنین معاهده هایی را اشتباه می دانند.**

**این نظر سنجی که در فواصل منظم و تحت عنوان «ARD-Deutschlandtrend» نشر می شود، به سفارش کانال اول تلویزیون عامه آلمان (ای ار دی) و توسط مرکز پژوهشی «اینفراتست دی مپ» انجام شده است.**

**در همین زمینه**
**<u>کار تحقیقاتی: گرایش فزاینده جوانان آلمانی به دیدگاه های راست افراطی</u>**

**براساس این نظرسنجی اخیر که در روز پنجشنبه نشر شد، پس از پناهندگی، مناقشات بین المللی و تهدیدات (۳۴ درصد)، محافظت از محیط زیست و اقلیم (۲۱ درصد) ، اقتصاد و همچنین نبود توانایی برای رقابت (۲۰ درصد) در جایگاه های بعدی قرار می گیرند.**

**حدود دو سوم از افراد واجد شرایط در آلمان (۶۵ درصد) با سیاست های حاکم در اتحادیه اروپا کمتر و یا اصلا راضی نیستند و حدود یک سوم دیگر (۳۱ درصد) از آن ابراز رضایت کرده اند.**

در مورد علاقه به انتخابات پارلمانی اروپا که به تاریخ ۶ تا ۹ جون برگزار می شود، در میان شهروندان آلمانی دو دستگی وجود دارد.

در همین زمینه
وزیر داخله آلمان: با قوانین پناهندگی اتحادیه اروپا نواحی ما سبک دوش می شوند

نیمی از آن ها (۴۹ درصد) علاقه شدید و یا بسیار شدید به انتخابات دارد و نیمی دیگر (۴۸ درصد) علاقه کمتر و یا اصلا هیچ علاقه ای به انتخابات ندارد.

مرکز پژوهشی اینفراتست دی مپ در روزهای دوشنبه و سه شنبه از ۱۳۲۳ فرد واجد شرایط رای دهی سوال کرده بود. افراد شرکت کننده در این نظرسنجی که به صورت تلیفونی و یا انلاین انجام شده است، به صورت تصادفی انتخاب شده اند.

## قبرس: کمک یک میلیاردی اتحادیه اروپا به لبنان برای جلوگیری از سرازیر شدن پناهجویان

مهاجرنیوز

یک مقام رسمی قبرس گفت که اتحادیه اروپا قصد دارد به منظور جلوگیری از ورود پناهجویان سوریایی به لبنان یک بسته کمک های مالی ارائه کند. روز پنجشنبه رئیس کمیسیون اتحادیه اروپا که به همراه رئیس جمهور قبرس به لبنان سفر کرده است، این خبر را تایید کرد .

اورزولا فون دیر لاین، رئیس کمیسیون اتحادیه اروپا از تصویب یک معاهده مهاجرت با لبنان به ارزش یک میلیارد یورو خبر داد. فون دیر لاین، روز پنجشنبه طی دیدار از بیروت، پایتخت لبنان اعلام کرد که این مبلغ برای اقداماتی مانند محافظت از مرزها و مدیریت مهاجرت در نظر گرفته شده است. هدف اصلی این است که از ادامه سفر پناهجویان سوریایی به اتحادیه اروپا جلوگیری شود.

فون دیر لاین اعلام کرد: «این بسته یک میلیاردی که تا سال ۲۰۲۷ در دسترس می باشد برای مردم لبنان به مصرف می رسد که شدیدا به آن نیاز دارند و به برقراری امنیت و ثبات در کشور کمک می کند«

در همین زمینه
مهاجرت: ظرفیت قبرس به مرز نهایی رسیده است

بنا به اطلاعات اتحادیه اروپا این بسته مالی برای تجهیز و آموزش اردوی لبنان و نیروهای امنیتی دیگر به قصد محافظت از مرزها و مبارزه با قاچاقبران در نظر گرفته شده است. افزون بر این اتحادیه اروپا می خواهد نهادهای آموزشی و صحی را تمویل کند، نه فقط برای مردم محلی بلکه همچنین برای پناهجویان .

قبرس که عضو اتحادیه اروپا است، به صورت فزاینده ای از افزایش شدید مهاجران سوریایی که از طریق بحیره مدیترانه به این کشور می آیند، نگران است. لبنان که فقط ۱۰۰ مایل (۱۸۵ کیلومتر) از قبرس فاصله دارد، میزبان صدها هزار پناهجوی سوریایی است.

کنستانتینوس لیتیمبیوتیس، سخنگوی حکومت قبرس در یک بیانیه گفت: «رئیس کمیسیون اروپا یک بسته جدید کمک برای لبنان را معرفی خواهد کرد.«

**اورزولا فون دیر لاین، رئیس کمیسیون اتحادیه اروپا که قرار بود روز چهارشنبه در قبرس باشد، پنجشنبه صبح به همراه نیکوس کریستولیدیس، رئیس جمهور این کشور به بیروت سفر می کند.**

**لیتیمبیوتیس، سخنگوی حکومت قبرس در ادامه گفت، گفتگوهای آن ها روی چالش هایی متمرکز خواهد بود که لبنان در حال حاضر با آن روبرو است و اصلاحاتی که این کشور برای برقراری ثبات به آن نیازمند است.**

**نیکوزیا مدت ها است که سعی می کند موافقت اتحادیه اروپا را برای گسترش کمک به لبنان جلب و زمینه انعقاد معاهده ای شبیه معاهده هایی با ترکیه، تونس و مصر (برای جلوگیری از ورود پناهجویان) با این کشور را فراهم کند.**

**در ادامه بیانیه سخنگوی حکومت قبرس آمده است: «اجرای این (بسته) با ابتکار کریستودولیدیس، رئیس جمهور و جمهوری قبرس تحقق یافته است و ثابت می کند که اتحادیه اروپا می تواند نقش فعالی در منطقه ما داشته باشد.«**

**لبنان از سال ۲۰۱۹ در آستانه فروپاشی اقتصادی قرار دارد و بیشتر اصلاحاتی را که صندوق بین المللی پول خواهان آن شده بود، تصویب نکرده است. صندوق بین المللی پول دسترسی به کمک های مالی اش را مشروط به انجام این اصلاحات کرده است. به هر حال لبنان از کشورهای دوست خواسته که به حمایت از آن ادامه دهند.**

**در همین زمینه**
**<u>بیش از ۱۰۰ مهاجر در دوازده ساعت وارد قبرس شدند</u>**

**برخی از مقام های لبنانی از حضور رو به افزایش مهاجران و پناهجویان در این کشور، به عنوان وسیله ای برای چانه زنی استفاده می کنند و می گویند، در صورتی که کمک های اقتصادی بیشتری دریافت نکنند، قایق‌های مهاجرانی را که عازم اروپا هستند، متوقف نمی کنند.**

**قبرس در سه ماه نخست سال روان بیش از ۲ هزار سوریایی را که از طریق بحر به این جا آمده اند، قبول کرده است .این در حالی است که شمار این مهاجران در همین دوره در سال گذشته به ۷۸ تن می رسید.**

**در اوائل این ماه، قبرس در یک اقدام بی سابقه قایق های گزمه را به آب های بین المللی در برابر سواحل لبنان فرستاد تا پناهجویان را از ورود به آب های کشورش بازدارد. قبرس همچنین گفته است که پروسه رسیدگی به درخواست های پناهندگی شهروندان سوریایی را معلق می کند.**

## بیش از 800 مهاجر افغان دیگر از پاکستان اخراج شدند

صدای ترکیه



**وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان افغانستان اعلام کرد که پاکستان طی روز گذشته بیش از 800 مهاجر افغان را از این کشور اخراج کرده است**

**وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان اداره امارت اسلامی در افغانستان امروز پنجشنبه با انتشار اطلاعیه‌ای اعلام کرد: پاکستان در یک روز گذشته 838 مهاجر افغان شامل خانواده‌ها و افراد مجرد را از این کشور اخراج کرده است.**

**بر اساس این اطلاعیه، مهاجران مذکور از طریق مرزهای تورغندی در ولایت ننگرهار و سپین بولدک در ولایت قندهار دوباره وارد افغانستان شده‌اند.**

**این وزارت‌خانه همچنین از بازگشت مهاجران از ایران خبر داد که نشان دهنده افزایش اخراج مهاجران افغان از ایران و پاکستان طی ماه‌های اخیر است.**

## تیم پناهندگان در بازی های المپیک پاریس: ۳۶ ورزشکار از ۱۱ کشور

مهاجرنیوز




**تیم پناهندگان در بازی های المپیک سال روان که در پاریس برگزار می شود، معرفی شد .این تیم ۳۶ ورزشکار از ۱۱ کشور دارد که در ۱۲ رشته ورزشی مختلف رقابت خواهند کرد .۵ تن از ورزشکاران پناهنده در این تیم، افغان و ۱۴ تن دیگر، ایرانی هستند.**

**در بیانیه تیم پناهندگان که روز پنجشنبه نشر شد، به نقل از توماس باخ، رئیس کمیته بین المللی المپیک آمده است که این ورزشکاران از بیش از ۷۰ رشته مختلف برگزیده شده اند.**

**توماس باخ در ادامه گفت: «ما به این وسیله به بیش از ۱۰۰ میلیون پناهجو در سراسر جهان پیام امید می فرستیم و همزمان توجه میلیاردها انسان را به بحران رو به گسترش پناهندگی جلب می کنیم.«**

**پناهندگان انتخاب شده در زیر بیرق المپیک رقابت نمی کنند، بلکه آرم تیم پناهندگان را دارند. در مرکز این آرم یک قلب قرار گرفته که با تیرهای رنگارنگ احاطه شده است. از این تیم با مخفف «EOR» یاد خواهد شد که از نام فرانسوی « Équipe Olympique des Réfugiés.»(تیم المپیک پناهجویان) گرفته شده است.**

**در همین زمینه**
**<u>بازی‌های المپیک در پاریس: مقامات می‌خواهند مهاجران و بی سرپناهان را از دید گردشگران پنهان کنند</u>**

**معصومه علی زاده، از افغانستان در این باره گفت:«این که ما آرم خودمان را داریم به ایجاد حس تعلق کمک می کند و به ما این توانایی را می دهد که به نمایندگی از بیش از ۱۰۰ میلیون پناهجو در این مسابقات شرکت کنیم«.**

**علیزاده که در مسابقات بایسکل رانی زنان در بازی های توکیو شرکت کرده بود، گفت: «بی صبرانه در انتظار پوشیدن این نشان افتخارآمیز هستم.«**

در بازی های المپیک که در ماه جون سال روان برگزار می شود، مجموعا ۲۳ مرد و ۱۳ زن در ورزش های بدمینتون، بوکس، رقص بریک، قایق رانی، بایسکل رانی، جودو، تیراندازی، شنا، تیکواندو، وزنه برداری و کشتی رقابت خواهند کرد.

سیندی انگامبا، بوکسور و فریده اباروگه، دونده اتیوپیایی در شمول زنان ورزشکار هستند. کسری مهدی پورنژاد، ورزشکار تکواندو که در آلمان زندگی می کند و ادیلیو فرانچسکو سنتندو نیویس، تیرانداز ونزوئلایی از جمله مردان ورزشکار هستند.

کسری مهدی پورنژاد گفت: «رویای من در مورد شرکت در المپیک به حقیقت می پیوندد». روز سه شنبه اعلام شد که سومین دونده این تیم در پی افشای نتیجه مثبت تست دوپینگ اش تعلیق شده است.

فدراسیون المپیک آلمان روز پنجشنبه در فرانکفورت اعلام کرد ۹ تن از ورزشکاران که در حال حاضر تحت سرپرستی این فدراسیون هستند، در بازی های المپیک سال روان شرکت می کنند.

در همین زمینه
ذکیه خدادادی، ورزشکار پناهنده افغان قهرمان پارا تکواندوی اروپا شد

به گفته این فدراسیون، ورزشکار دهم در تیم پناهندگان نیز در آلمان تمرین می کند، اما تحت سرپرستی مستقیم اتحادیه بین المللی کانو (ICF) قرار دارد .

تیم پناهندگان در سال ۲۰۱۶ توسط کمیته بین المللی المپیک برای شرکت در بازی های ریو دو ژانیرو تشکیل شد تا ورزشکارانی هم که مجبور به ترک وطن شان شده اند، بتوانند در سطح بین المللی رقابت کنند.

در آن زمان ۱۰ ورزشکار در ریو که یسرا مردینی، شناگر سوریایی نیز در شمول آن ها بود، نخستین پناهندگانی بودند که در بازی های المپیک شرکت کردند.

سه سال پیش در بازی های توکیو، شمار آن ها به ۲۹ تن رسید که در ۱۲ رشته ورزشی به رقابت پرداختند.